## مطبوعاتي اعلامیه

### د تونس واکمنانو د جمعې د لمانځه مخنیوی وکړ او هغه کسان یې ونیول چې لمونځ یې کاوه!
### ﴿قَاتَلَهُمُ اللهُ أَنىَّ يُؤْفَكُونَ﴾ [منافقون: ۴]

***ژباړه:*** *الله سبحانه و تعالی د دوی ووهي، دوی کوم لوري ته اړول کېږي.*

د ۲۰۲۰م، د اکتوبر په ۱۰مه امنیتي ځواکونو د حزب التحریر غړي، رمزي حفیظ الله په انتلاقه سیمه / مانوبا ولایت کې او خمیس اروس په کرکینا ټاپو کې د جمعې په لمانځه کې د عبادت کوونکو د رهبرۍ له امله ونیول، چې د لومړي وزیر هشام المشیشي له خوا له ګناه څخه د ډکې پرېکړې له امله ځنډول شوي وو او د ۲۰۲۰م، د اکتوبر په ۱۰مه یې له کرونا ویروس څخه د ځان ساتنې ادعا کړې وه!

د تونس واکمنان د الله سبحانه وتعالی او د هغه د دین د اولیاوو پر وړاندې د ګناه لوړې کچې ته رسېدلي دي. دا خلک څنګه جرئت کوي چې پر ممکنه کړنلارو له فکر کولو پرته د جمعې د لمانځه مخنیوی وکړي!؟ هغه لمونځ چې الله سبحانه و تعالی پر مسلمانانو واجب ګرځولی دی. د جمعې د لمانځه له ارزښتونو څخه یو هم د مسلمانانو د راټولېدو ارزښت دی. څوک چې له شرعي عذر پرته پرې سترګې پټوي او یا هم  غفلت کوي، په آخرت کې د درناک عذاب مستحق دی، نو دوی یې څنګه ځنډوي؟ په ساده توګه، لکه همدا!! نو بیا څنګه دا واکمنان د هغه چا د نیولو جرئت کوي چې د الله سبحانه و تعالی حکم یې مراعات کړی دی چې وایي:

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِن يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ﴾**[جمعه: ۹]

***ژباړه:*** *اې مومنانو! کله چې د جمعې په ورځ د لمانځه لپاره غږ (اذان) وشي، نو د الله سبحانه و تعالی د ذکر (لمانځه) پر لور وځغلئ او پېرل، پلورل (رانیول او خرڅول) پرېږدئ؛ دا ستاسې لپاره ډېره غوره ده که تاسې پوهېږئ.*

په داسې یو وخت کې چې خلکو ته اجازه ورکول کېږي چې عامه ټرانسپورټ او نورو وسایلو ته مخه کړي!؟ ایا د کرونا ویروس ناروغۍ له اسلامي ارزښتونو او سترو احکامو سره په مبارزه کې عذر ګڼل کېږي!؟

حزب التحریر- ولایه تونس د جمعې د لمانځه د بندولو پرېکړه او د هغو کسانو پر وړاندې اقدام غندي چې د شرعي احکامو په پام کې نیولو سره نیول شوي او مجرم بلل شوي دي. موږ د تونس واکمنانو ته د الله سبحانه و تعالی د غضب په اړه خبرداری ورکوو، المنتقم الجبار، چې فرمایي:

﴿وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ مَنَعَ مَسَاجِدَ اللَّهِ أَنْ يُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ وَسَعَى فِي خَرَابِهَا أُولَئِكَ مَا كَانَ لَهُمْ أَنْ يَدْخُلُوهَا إِلَّا خَائِفِينَ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾ [بقره: ۱۱۴]

***ژباړه:*** *له هغه چا به بل لوی ظالم څوک وي، چې د الله سبحانه وتعالی په عبادت ځایونو (مسجدونو) کې د الله سبحانه و تعالی د نوم اخیستل منع کوي او د هغو د ورانولو په هڅه کې وي؟ دغه خلک د دې وړ نه دي چې په دې عبادت ځایونو کې قدم کېږدي او که ورهم شي، له وېرې سره به ورځي. د هغو لپاره خو په دنیا کې رسوایي او په اخرت کې لوی عذاب دی.*

**د حزب التحریر- ولایه تونس مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۲ هـ.ق، د صفر ۳۰مه**

**۲۰۲۰م، د اکتوبر ۱۷مه**

**د صدور گڼه: ۰۸ / ۱۴۴۲**